مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدعیان عیان

۲۰۱۹/۱۲/۱۳

# ورکه کورونا کړې

ورکه کورونا کړې له خپل کور وتلی نه شم
نه مې خپل لمسیان او نه خپلوان، کتلی نه شم

یو کال قابو کیږي چې په کور کې قرنطین یم
سترګې مې کمزورې شوې سور لمر کتلی نه شم

غرک یې ټول جهان کړ، تابوتونه دي چلیږي
دومره تابوتونو ته کتل، ځغملی نه شم

په نولس سوه نولس کې له چینه شروع شوه
اوس یې په نړۍ کې دقیق شمیر، شمیرلی نه شم

ترننه ترڅه کم اویا(۷۰) میلیونه پې ککړ دي
هره ورځ ډیریږي هیڅ اټکل کولی نه شم

د کور د شیشې شا ته مې بچي، نوسي ولاړ وي
غیږې خو لا څه کړې چې یې لاس نیولی نه شم

یو میلیون اته دیرش زره خلک یې نړۍ کې دي وژلي
هره ورځ ډیریږي دغه شمیر یې وروستنی ګڼلی نه شم

هره ورځې ګورم بنه یاران دي چې کمیږي
زه «عیان» تش اورمه، نور هیڅ کولی نه شم

پای

د لیکلو نیټه یې: ۱۳۹۹/۹/۲۰ــ/ ۲۰۲۰/۱۲/۱۰



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ